مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

۲۰۲۶/۰۲/۱۸

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
## (شپږمه برخه)

### ډاکټر عبدالظاهر شریفي

په ۱۹۰۹ز کال کې په لغمان کې زېږېدلی دئ. د حبیبې په لیسې کې ئـې زده کړې کړي دي. په ۱۹۴۴ز کال کې ئـې د کولمبیا له پوهنتون څخه په طب کې خپله دکتورا تر لاسه کړه. په ۱۹۴۴ز کال کې د کابل ښاروالی د کلنیک مشر وو. په ۱۹۴۹ز کال کې د پادشاه طبیب وو. په ۱۹۵۱ز کال کې د روغتیا د وزارت مرستیال وزیر. په ۱۹۵۶ز کال کې د روغتیا وزیر. د ۱۹۵۸ز کال د مي په میاشت کې د پاکستان سفیر. له ۱۹۶۱ تر ۱۹۶۴ز کال پورې ولسي جرګې رئـیس. په ۱۹۶۵ز کال کې د لویې جرګې رئـیس. د ۱۹۶۴ز کال د سپتمبر په میاشت کې مرستیال صدراعظم او د روغتیا د وزارت وزیر. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۹ز کال پورې د ولسي جرګې رئـیس. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۱ز کال پورې د ایتالیا سفیر. په ۱۹۷۱ز کال صدراعظم. په ۱۹۷۳ز کال کې په هندوستان کې د افغانستان سفیر. د جمهوریت له استقرار وروسته متقاعد سو. په ۱۹۵۸ز کال کې ئـې د سردار اعلی مدال تر لاسه کړی دئ. په ۱۹۸۱ز کال کې وفات سو.

### مولوي روح الله عابد

د غوایي له پاځون وروسته د اسلامي چارو د مقام مشر.

### سید عبدالرزاق عابدي

د یوې سید کورنۍ غړی. خپل لیسانس ئـې د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو له پوهنځي څخه تر لاسه کړی دئ. په انقره کې ئـې د دیپلومات په توګه دنده تر سره کړې ده. په پېښور کې مرستیال قنسل. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۵ز کال پورې د کندز والي. د باندنیو چارو په وزارت کې د پروتوکول د څانګې مشر. د ۱۹۸۰ز کال د آګست په میاشت کې د ترکیې سفیر. په ۱۹۸۱ز کال کې له خپل کار څخه برطرف سو. په ۱۹۸۲زکال کې د باندنیو چارو په وزارت کې د اقتصادي اړیکو مدیر.

### میر عبدالقادر ابهر

د میر نجم الدین زوی په ۱۹۱۶ز کال کې د پروان په جبل السراج کې زېږېدلی دئ. د منوچهري له ښوونځي فارغ او بیا ئـې په شوروي اتحاد کې تحصیلات وکړل. د پروان د ښاروالی رسمي مأمور. د پښتـون ږغ د مجلې کارکوونکی. د کابل راډیو د سکرتریت مأمور. شاعر او لیکوال


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## محمد عظیم ابکم

په ۱۸۰۸ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د رسام په توګه ئـې په خپل هنر کې شهرت وموند او په دې وګومارل سو چې د امیر دوست محمد خان او د هغـهٔ د شهزادګانو انځورونه رسم کړي. د امیر عبدالرحمن خان د دربار رسام، امیر خپل خادمان وهڅول چې رسامي او میناتوري دې له ابکم څخه زده کړي. غلام محمد میمنګي د محمد عظیم ابکم یو له شاګردانو څخه وو. په ۱۹۰۰ز کال کې د ۹۲ کالو په عمر وفات سو. ددهٔ زوی محمد عزیز ابکم د امیر عبدالرحمن خان او د امیر حبیب الله خان په دربارونو کې آبدارباشي/ سر پیش خدمت وو او لمسی ئـې محمد سرور هم یو هنریال رسام سو.

## محمد اکرم عبقري

د ۱۹۷۸ز کال د مې په میاشت کې د عدلیې د وزارت د اداري چارو مرستیال وزیر.

## ډاکټر ابوبکر

په ۱۹۱۰ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د استقلال له لیسې فارغ او په ۱۹۳۲ز کال کې فرانسې ته واستول سو. خپله دکتورا ئـې په فزیک کې تر لاسه کړه. په ۱۹۴۵ز کال کې بېرته افغانستان ته راستون سو. په ۱۹۴۷ز کال کې ئـې د مستوفي سید حبیب له لور رقیه حبیب سره وادهٔ وکړ وروسته طلاق سول. د استقلال په لیسې کې د فزیک ښوونکی، او د کابل پوهنتون د ساینس په پوهنځي کې د فزیک پوهاند چې وروسته د همدې پوهنځي رئیس هم سو. د شاه محمود پر مهال ئـې د اکاډیمیکي آزادۍ لپاره مبارزه وکړه او بیا ونیول سو. د ۱۹۷۰لیسزې په کلونو کې مړ سوی دئ.

## غلام ابوبکر

د ۱۹۸۰ز کال د فبرورۍ په میاشت کې د کرنې په وزارت کې د ځمکو د ملکیت د ریاست رئیس. د کرنې او د ځمکو د اصلاحاتو د وزارت مرستیال وزیر.

**رقیه ابوبکر** : وګورئ : رقیه حبیب

## حفیظ الله ابو ضیاء

د عبدالله قندهاري زوی په ۱۸۹۹ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د حبیبې له لیسې څخه له فارغ کېدلو وروسته د باندنیو چارو په وزارت کې ئـې کار پیل کړ. په ۱۹۳۰ز کال کې په کابل کې د «انجمن ادبي کابل» غړی. دا هغه شاعر دئ چې د «استاد قُربَت» شاګردي ئـې کړې ده. په ادبي کره کتنې/ نقد کې تخصص لري.

## غلام صدیق اڅکزی

د محمد حسن رقیم زوی په ۱۹۰۹ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. , محمد حسن رقیم: شاعر او د مشروطه غوښتونکو یو غړی چې په ۱۹۰۹ز کال کې ئـې د امیر حبیب الله د سلطنت د رنګېدلو هڅه وکړه او په ۱۹۱۸ز کال کې له لسو کلونو وروسته وفات سو . غلام صدیق په ۱۹۲۸ز کال کې د کرنې د انجنیرۍ په برخه کې خپل د فراغت


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سند له فرانسي څخه تر لاسه کړ. له ۱۹۳۰ تر ۱۹۳۶ز کال پورې د کرنې متخصص. له ۱۹۳۶ تر ۱۹۳۸ز کال پورې په کابل کې د "زراعت د مسلکي ښوونځي مرستیال مدیر" [1]. له ۱۹۳۸ تر ۱۹۳۹ز کال پورې د "نباتاتو د تحفظ مدیر" [2]. له ۱۹۴۰تر ۱۹۴۷ز کال پورې د کندز د کرنې د ستیشن عمومي مدیر. (همدلته په کندز کې ئې د ۳۰۰ ایکر په پراخوالي ځمکې کې لومړنی تجربوي تطبیقاتي فارم جوړ کړ) له ۱۹۴۸ تر ۱۹۵۱ز کال پورې د هېواد د شمال د ولایتونو د کرنې رئیس. له ۱۹۵۱ تر ۱۹۵۵ز کال پورې د کرنې د وزرات د "کرنپوهنې/ زراعت پېژندنې او تخنیکي چارو" [3] مرستیال رئیس. له ۱۹۵۵تر ۱۹۵۹ز کال پورې د کرنې د وزارت مرستیال وزیر "معین". غلام صدیق اڅکزي لومړنی څوک وو چې د افغانستان پینځه کرنیز پلانونه ئې ډیزاین کړل. مورنۍ ژبه ئې دري ده. په ۱۹۸۴ز کال کې په کالیفورنیا کې وفات سو. زوی ئې غلام فاروق اڅکزی په نیویورک کې د یو ان ډي پي UNDP لوړ پوړی چاروکی دئ.

## فرخ آفندي

(د سلطان عبدالحمید حمید د سلطنت پر مهال د لومړۍ رسالې د افسر) احمد قاسم زوی په ۱۹۰۰ز کال کې په تورکیې کې زېږېدلی دئ. یو کلن وو چې مور ئې وفات سوه او پلار ئې د انور پاشا په امر اعدام / غرغره سو. دی چې لوی سو د انساني څېرو یا پورټریټ د رسامۍ یو ماهر هنریال سو. د ۱۹۲۲ز کال په شاو خواوو کې ئې په فرانسه کې له محمود بیګ طرزي سره ولیدل او د اعلیحضرت امان الله خان د سلطنت پر مهال افغانستان ته راغی. همدا شان دی موسیقي پوه هم وو. د کابل د صنایعو په ښوونځي کې ښوونکی سو؛ دی د غلام محمد خان مصور میمنګي او د مشهور هندي هنریال عبدالعزیز ملګری وو. د وسله وال ځواک لپاره ئې د رسام هنرمند په توګه کار وکړ. د وسله وال ځواک د موسیقي باند لپاره یو مخکښ ښوونکی او کمپوزر سو. له ۱۹۴۷ ان تر ۱۹۷۰ لسیزې پورې چې وفات سو د راډیو کابل د موسیقي د مدیریت لپاره ئې کار وکړ، د راډیو کابل نوم وروسته په راډیو افغانستان بدل سو. له یوې افغان مېرمنې سره ئې وادهٔ وکړ او څلور ماشومان ئې درلودل.

## غلام مُحي الدين افغان

د عبدالرشید زوی په ۱۸۶۲ز کال کې په کندهار کې زېږېدلی دئ. لومړنۍ دودېزې زده کړې ئې په افغانستان کې وکړې او د (میوند له فاتح) ایوب خان سره له هېواده دباندې لاړ. په هندوستان کې ئې خپلو تحصیلاتو ته دوام ورکړ او په ۱۹۰۶ز کال کې بېرته افغانستان ته راستون سو او یو له لومړنیو ښوونکو څخه سو. د حبیبیې د ښوونځي د بنسټ په ایښودلو کې او هم ئې د کابل د نورو لومړنیو ښوونځیو د بنسټ په ایښودلو کې مرسته وکړه. دی یو مشروطه غوښتونکی، د آزادۍ د لارې مبارز، لیکوال، شاعر او ژباړونکی وو. د اعلیحضرت امان الله خان د واکمنی په لومړیو وختونو کې د لومړنیو رسمي ښوونځیو د ریاست رئیس وو. په ۱۹۲۲ز کال کې وفات سو.

---

[1] - Deputy Director of Vocational School in Agriculture, Kabul,

[2] - Department of Plant Protection

[3] - Department of Agronomy and Technical Affairs, Ministry of Agriculture.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## ډاکتر محمد انور افغان

د محمد اکبر زوی. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۷ز کال پورې ئې د امریکا د متحده ایالاتو د «اوریګن» په دولتي پوهنتون کې د کرنې او حیواني ساینس په برخه کې زده کړه کړې او دکتورا ئې ترلاسه کړې ده. د کرنې د وزارت د مالدارئ د ریاست عمومي رئیس. د ۱۹۶۰ او ۱۹۷۰ لسیزو په اوږدو کې ددهٔ د کار پر مهال د معاصر فارم دارئ سکتور ډېر بریالی وو.

## توران افغان

د سمندرخان زوی په ۱۹۵۶ز کال کې د کابل په دِهٔ سبز کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۷۸ز کال کې له حربي پوهنتون څخه فارغ سوی دئ. د خلقي رژیم پر مهال زنداني سو خو وروسته آزاد سو. د کوهٔ صافي په محاذ کې د مجاهدینو بولندوی. د ۱۹۸۵ز کال د فبرورئ په میاشت کې ووژل سو.

**استاد قاسم افغان** : وګورئ : قاسم

## ډاکتر سعید افغاني

له یوې ننګرهارئ کورنئ څخه. په مصر کې ئې تحصیلات کړي دي او همدلته ئې په ۱۹۶۷ز کال کې د سید جمال الدین افغان په هکله رساله په عربي ژبې ولیکله. د داؤود له کودتا وروسته د سترې محکمې رئیس سو. سره له دې چې له حفیظ الله امین سره ئې ښې اړیکې درلودلې بیاهم د ۱۹۸۱ز کال په لړ کې د اسلامي چارو د عالي شورئ د رئیس په توګه وټاکل سو. (د تاشکند د روحاني ریاست د رئیس) مفتي ضیاء الدین بابه خانوف له ګډې اعلامیې سره موافق وو. د عدلیې د وزارت د تمیز د عالي محکمې رئیس. د علماوو د عالي شورئ عمومي رئیس. په ۱۹۸۳ز کال متقاعد سو. د ۱۹۸۵ز کال د فبرورئ په میاشت کې وفات سو.

## نور بیا

## سید جمال الدین افغاني

په ۱۸۳۸ز کال کې زېږېدلی دئ...

قدرمنو لوستونکو! د ښاعلي رحمت آریا د آرشیف: لینک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ